مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تحلیل هفته

**شماره: ۱۷۱** (از ۲۳ الی ۳۰ اسد ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........ ۲

## ملي وحدت حکومت؛ دوه کلن مزل او راتلونکی برخلیک

- د ملي وحدت حکومتونو نړیواله تجربه ........ ۳
- په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت تجربه ........ ۴
- د ملي وحدت حکومت د تېر دوه کلن مزل ارزونه ........ ۴
- د ملي وحدت حکومت د اختلافاتو او ناکامی لاملونه ........ ۵
- د ملي وحدت حکومت راتلونکی ........ ۷

# ملي وحدت حکومت؛ دوه کلن مزل او راتلونکی برخلیک



## مقدمه

په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت په تېره دوه کلنه دوره کې د حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ لږه همغږي موجوده وه او په ډېری مسائلو کې يې اختلافات درلودل؛ خو اوس بیا دغه اختلافات خپل اوج ته رسېدلي دي. اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله د زمري میاشتې په ۲۱مه په یو مطبوعاتي کنفرانس کې پر ولسمشر اشرف غني توندې نیوکې وکړې او ویې ویل: «څوک چې حوصله نه لري، د ولسمشرۍ وړ نه دی...». نوموړي ولسمشر غني په چارو کې په خپلسرۍ تورن کړ او زیاته يې کړه، چې «ولسمشر حتی په دریو میاشتو کې هم یو ځل له خپل اجرائیه رئیس سره نه ګوري.»

د اجرائیه رئیس له څرګندونو یوه ورځ وروسته، ژ ګ هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره د ډاکتر عبدالله خبرې «د دولتدارۍ د موازینو او روحیې خلاف» وبللې او دغه راز ولسمشر غني د ځوانانو د نړیوالې ورځې په نمانځغونډه کې وویل، هغه کسان دی د قدرت په انحصار تورنوي چې د ده په خبره، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کې د هغوی ګټې له خطر سره مخ شوې دي.

ملي وحدت حکومت په تېرو دوو کلونو کې د ناامنيو، له افغان طالبانو سره د توديې جګړې، په هېواد کې مخ پر ځوړ اقتصادي وضعيت او ورځ تر بلې د مشروعيت د بحران په څېر ننګونو سره مخ شو؛ خو له تېرو دوو اوونيو راهيسې بيا له پراخو او ژورو داخلي اختلافاتو سره هم مخ شوی. که څه هم د حکومت مشرانو په تېرو دوو کلونو کې په ځينو قضيو کې مخالف او متفاوت نظرونه درلودل؛ خو اختلافات يې تر دې کچې نه وو رسېدلي، چې د يو بل خلاف په دومره تونده لهجه نيوکې او څرګندونې وکړي.

په نړيواله کچه د ملي وحدت حکومتونه، په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت تجربه، په تېره دوه کلنه دوره کې د دغې نوې تجربې بريا او ناکامي او په حکومت کې روان وضعيت ته په کتلو سره د دغه حکومت د راتلونکي جاج هغه موضوعات دي، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل ځانګې، د دې اوونۍ په تحليل کې پرې شننه لولئ.

## د ملي وحدت حکومتونو نړيواله تجربه

په عمومي ډول د ملي وحدت حکومتونه په ځينو هېوادونو کې له اوږدې جګړې وروسته او يا هم په يوه بېړني حالت کې، د ډېرى يا ټولو لوريو له‌خوا د يوه ايتلافي حکومت په بڼه جوړېږي. د دغو حکومتونو ګټه دا وي، چې د جګړو، اضطراري حالاتو او د قومي لانجو پرمهال تر څه حده د هېواد پر امنيت او ثبات مثبته اغېزه کوي؛ ځکه د هېواد ټول لوري او يا مهمې ډلې پکې وي.

په تېره يوه پېړۍ کې په نړۍ کې د ملي وحدت حکومتونو يو شمېر بېلګې شته دي او په انګلستان، اسرائيلو، زمبابوې، نيوزيلانډ، ايټاليا، يونان، کينيا، سريلانکا، نيپال او يو شمېر نورو هېوادونو کې يا د «ملي وحدت» په نامه او يا همدې ته په ورته نامه جوړ شوي دي. په يادو شويو هېوادونو کې د «ملي وحدت حکومت» يوه بېلګه هم هومره برياليۍ نه شوه، چې هغه دې په سياسي قاموس کې يوه بېلګه او اېډيال حالت وبلل شي.

په يو شمېر افريقايي هېوادونو کې له اوږدو جګړو او د ټاکنو پر سر له لانجو وروسته دغه ډول حکومتونه په دې موخه رامنځته شول، چې هېواد له ډېر خراب وضعيت څخه د لږ خراب وضعيت په لور بوځي. ځکه نو د ملي وحدت حکومتونو ته، د جګړې او کړکېچ د کمولو لپاره د يوې لنډمهالي حل لارې په سترګه کتل کېږي، ترڅو د سولې او جوړجاړي لپاره يو داسې ماحول جوړ کړي، چې په اوږده مهال کې بدلونونو ته لاره هواره کړي.

## په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت تجربه

د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو د پایلو پر سر د دوو مخکښو نوماندانو، اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ نانډرۍ او اختلافات راپورته شول او له څو میاشتو دوام وروسته، دواړو ټاکنیزو ډلو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په منځګړتوب، د ملي وحدت حکومت پر جوړولو هوکړه وکړه. لاهم معلومه نه ده، چې په ۱۳۹۳ کال کې د ملي وحدت حکومت د جوړولو طرحه لومړی د چا لهخوا وړاندې شوه؛ خو نړیوالې ټولنې له دغې طرحې تود هرکلی وکړ؛ ځکه هغه مهال یوه لوري هم د بل لوري بشپړه بریا نه منله او د ټاکنو پایلې له بن‌بست سره مخ وې.

له هېواده د روسانو له وتلو وروسته هم، د افغان مجاهدینو ډلو اوسني ملي وحدت حکومت ته ورته یو حکومت جوړ کړ؛ خو هغه حکومت هم خپلې موخې ته ونه رسېد. دغه راز د ۱۳۸۹ کال ولسمشریزو ټاکنو پر پایلو د لانجې پر مهال هم، د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د یوه ورته حکومت جوړولو وړاندیز شوی و، خو هغه مهال بیا د حامد کرزي له خوا دغسې حکومت ونه منل شو.

اشرف غني او ډاکټر عبدالله د ۱۳۹۳ کال د تلې میاشتې په ۷مه (د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۹مه) بالآخره د ملي وحدت حکومت پر جوړولو موافقه وکړه او په دې توګه د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل مشخصاً د «ملي وحدت» تر نامه لاندې د دوو لورو یو ایتلافي حکومت جوړ شو.

دا چې آیا هغه مهال د ملي وحدت حکومت جوړول یوه سمه پرېکړه وه او که نه؟ په اړه یې څه ویل ډېر ستونزمن دي؛ خو بیا هم دغه حکومت له جګړې وروسته د ټولو لوریو لهخوا نه دی جوړ شوی، بلکې دا یوازې د ټاکنو د پایلو پر سر د دوو ډلو د مخالفتونو له کبله جوړ شو، ترڅو د دواړو ګټې خوندي او دواړه د حکومت برخه شي.

## د ملي وحدت حکومت د تېر دوه کلن مزل ارزونه

د ملي وحدت حکومت نژدې دوه کلونه پوره شول؛ خو پوښتنه دا ده چې آیا دغه حکومت په تېرو دوو کلونو کې بریالی و که ناکام؟ موږ دغه پوښتنه په دوو برخو کې ځوابوو:

لومړی: د هېواد د عمومي وضعیت په کچه؛

دویم: د ملي وحدت د هوکړه‌لیک په کچه.

**د هېواد د عمومي وضعیت په کچه:** که په امنیت، اقتصادي وده، اداري فساد، کډوالو او نورو برخو کې د ملي وحدت حکومت له تېر حکومت سره پرتله کړو نو جوتېږي، چې د ملي وحدت حکومت د هېواد د وضعیت له نظره ناکام شوی. په ۲۰۱۴ کال د افغانستان اقتصادي وده ۱.۳ سلنه وه، په ۲۰۱۵ کال کې ۱.۵ سلنه وه او په ۲۰۱٦ کال کې ۲ سلنه اټکل شوې ده، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ټولو کمه سلنه ده. همدا راز د امنیت په برخه کې هم د ملي وحدت حکومت له جوړېدو راوروسته، یو شمېر ولسوالۍ سقوط شوې، د کندز ستراتېژیک ښار سقوط او دوو اوونیو لپاره د طالبانو ولکې ته ورغی، ناامنۍ او چاودنې زیاتې شوې، جنایي جرمونه زیات شول او د افغان حکومت تسلط یوازې پر ٦٥ سلنه خاورې پاتې شو، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ټولو کمه کچه ده. د دې ترڅنګ د کډوالو په برخه کې هم، د امنیتي او اقتصادي عواملو له کبله ډېری افغانان اروپا ته ولاړل، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې یې مخینه نشته.

**د ملي وحدت د توافقنامې په کچه:** د ملي وحدت په سیاسي توافقنامه کې، چې څومره ژمنې شوې، ډېری یې تراوسه هم نه دي عملي شوې. د بېلګې په ډول: که څه هم د دغه هوکړه‌لیک له مخې د اجرائیه ریاست پوست رامنځته شوی، اجرائیه رییس له تېرو دوو کلونو راهیسې خپل چارې مخته وړي او د دواړو مشرانو له‌خوا - له اختلافاتو سره سره- لوړپوړي دولتي چارواکي ګومارل شوي؛ خو له دې وراخوا په اساسي قانون کې د تعدیل په موخه لویه جرګه نه ده رابلل شوې، په ټاکنیز قانون کې اصلاحات نه دي راوړل شوي، پر ټولو هېوادوالو د هویت تذکرې نه دي وېشل شوې او نه هم د ولسوالیو شوراګانو او ولسي جرګې ټاکنې ترسره شوې. دا ټول هغه ټکي دي، چې د ملي وحدت حکومت په هوکړه‌لیک کې پرې ټینګار شوی و.

## د ملي وحدت حکومت د اختلافاتو او ناکامۍ لاملونه

دا چې د ملي وحدت حکومت ولې په تېرو دوو کلونو کې له ناکامۍ سره مخ شو، لاملونه یې په لاندې ډول دي:

**لومړی؛ په خپله د ملي وحدت حکومت فلسفه**: په افغانستان کې ملي وحدت حکومت، د ټاکنو د پایلو پر سر له لانجې وروسته رامنځته شو او دغه حکومت د څو ډلو او څو ایډیالوژیو خاوندانو ته تر یوه چتر لاندې ځای ورکړ. د نړۍ په ډېری هېوادونو کې د ملي وحدت حکومتونه له اوږدو جګړو وروسته رامنځته کېږي؛ خو بیا هم په کومو هېوادونو کې چې د ملي وحدت حکومتونه تجربه شوي (د بېلګې په ډول زمبابوې، کینیا او کمبوډیا) هلته دا حکومتونه ناکام شوي او یوازې یې ترڅو کلونو پورې دوام کړی.

**دویم؛ سیاسي اختلافات:** دواړو لورو له یو بل سره له پخوا څخه اختلافات درلودل او دغه اختلافات بیا د حکومت د ځینو دریځونو پرمهال رابربنډ شول او ان د ځینو لوړپوړو چارواکو د استعفاوو تر بریده هم ورسېدل. د دې ترڅنګ د افغان ولسمشر اشرف غني پرضد د ډاکتر عبدالله د وروستیو څرګندونو تر شا په جمعیت اسلامي ګوند کې د ډاکتر عبدالله د نفوذ کمېدل او څنډې ته کېدل هم رول لري. ډاکتر عبدالله په دغه کار سره وغوښتل چې پر ولسمشر د فشار ترڅنګ، د جمعیت اسلامي ګوند ملاتړ داسې مهال راخپل کړي، چې په نژدې راتلونکي کې به د دغه ګوند کنګره تاکل کېږي.

**دریم؛ له حزب اسلامي (حکمتیار) سره د احتمالي جوړجاړي اغېزې:** له څو میاشتو راهیسې د حکمتیار په مشرۍ اسلامي حزب سره د سولې خبرې اترې رواني دي. دا چې ولسمشر غني څواکمن ګوندیز ملاتړ نه لري؛ نو داسې انګېرل کېږي، چې د هېواد سیاسي ډګر ته د حزب اسلامي (حکمتیار) راتګ به د اشرف غني مټ پیاوړی کړي او دا هغه څه دي چې د مقابل لوري لپاره د مزاحمتونو معنا افاده کولی شي.

**څلورم؛ د صلاحیتونو په اړه دوه‌ګونی مفهوم:** د صلاحیتونو تفکیک هم هغه ستونزه ده چې د حکومت په ناکامۍ کې یې خپل رول لوبولی دی. ولسمشر غني فکر کوي چې د اوسني اساسي قانون له مخې په یو شمېر پرېکړو کې اړ نه دی چې د اجرائیه ریاست موافقه له ځان سره ولري. له بلې خوا اجرائیه رئیس بیا فکر کوي چې په حکومت کې ۵۰ سلنه شریک دی او له همدې کبله باید ولسمشر په مهمو تعییناتو او پرېکړو کې د هغه موافقه واخلي. د دې ترڅنګ د ملي وحدت په هوکړه‌لیک کې هم په جزئیاتو سره د صلاحیتونو تفکیک نه دی شوی.

**پنځم؛ د راتلونکي په اړه غیرواضح تصویر:** دواړه لوري د راتلونکي وضعیت او په ځانګړي ډول د حکومت د راتلونکي په اړه روښانه تصویر نه لري. ډاکتر عبدالله ښایي دغه حالت د ځان په زیان وبولي؛ ځکه د هغه د پوست لپاره په هېواد کې قانوني ضمانتونه نشته. همدا لامل و، چې څو میاشتې مخکې کله چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ملي وحدت حکومت د قانوني مودې په تړاو څرګندونې وکړې، د هېواد په کچه یې ډېر غبرګونونه راوپارول او ملي شورا هم دا د هېواد په کورنیو چارو کې یوه ناسمه مداخله وبلله.

**شپږم؛ د ژمنو نه عملي کېدل:** د ملي یووالي حکومت د ناکامۍ یو لامل دا هم دی، چې تر ډېره یې هغه ژمنې عملي نه شوای کړای، چې دواړو مشرانو د ټاکنو پرمهال کړې وې. همدا راز ډېری هغه ژمنې یې هم عملي نه شوای کړای، چې د ملي وحدت په هوکړه‌لیک کې یې کړې وې. له همدې ځایه، له یوه لوري د حکومت په

اړه په خلکو کې بې‌باوري کمه شوه او له بلې خوا په ملي وحدت حکومت کې د اجرائیه رئیس شریکې ډلې له خوا اختلافات پیل شول.

**اووم؛ د هېواد امنیتي وضعیت:** په هېواد کې روانه جګړه هم له هغو عواملو څخه ده، چې د ملي وحدت حکومت یې له سختو ننګونو سره مخ کړی او له همدې کبله د ملي وحدت حکومت د اقتصادي پروګرامونو په لاره کې خنډونه جوړ دي. د دې ترڅنګ د هېواد د خرابېدونکي وضعیت له کبله هم پر حکومت بې‌باوري زیاته شوې او حکومت اوس غواړي د دا ډول اختلافي څرګندونو پرمټ پرځان نیوکې راکمې کړي.

## د ملي وحدت حکومت راتلونکی

په عمومي ډول د ملي وحدت حکومت راتلونکی له لاندې ټکو سره تړل شوی دی:

**لومړی؛ د ملي وحدت حکومت دننه د اختلافاتو حل کېدل او کمېدل:** د اجرائیه رئیس او ولسمشر له توندو څرګندونو یوه اونۍ وروسته، د حکومت دواړو مشرانو تېره چهارشنبه په ارګ کې سره ولیدل. دغه کتنه، چې په «صمیمانه فضا کې» ترسره شوې، اجرایه رییس یکې خپلې اندېښنې او غوښتنې له ولسمشر سره شریکې کړې. که څه هم د دغې کتنې جزئیات نه دي خپاره شوي؛ خو بیا هم داسې اټکل کېږي، چې د ملي وحدت حکومت په هوکړه‌لیک کې د شوو ژمنو او د ځینو نورو سیاسي خبرو په اړه پکې بحث شوی. په دویمه غونډه کې به افغان ولسمشر د اجرائیه رییس د اندېښنو او غوښتنو ځواب ووایي او په درېیمه غونډه کې به بیا دغه راپورته شوي اختلافات حل شي. د ملي وحدت حکومت په لنډ مهال کې په دغو درېو کتنو متکي دی او په اوږده مهال کې بیا له لاندې نورو عواملو سره تړاو لري.

**دویم؛ د نړیوالې ټولنې ملاتړ:** په حکومت کې دننه د ډاکتر عبدالله او اشرف غني د اختلافاتو له کمېدو وروسته به، د ملي وحدت حکومت راتلونکی برخلیک د نړیوالې ټولنې پر ملاتړ متکي وي.

**درېیم؛ د دویم کال د مشروعیت له بحرانه وتل:** د ملي وحدت حکومت پر وړاندې د اشرف غني او ډاکتر عبدالله له اوسنیو اختلافاتو وراخوا تر ټولو لویه ننګونه د مشروعیت له بحران څخه وتل دي؛ ځکه د هېواد دننه یو شمېر سیاسیون پر دې ټینګار کوي، چې د ملي وحدت حکومت له دوه کلنې مودې پوره کېدو سره، د دغه حکومت مشروعیت پای ته رسېږي.

**شلورم؛ د هېواد مجموعي وضعيت ښه کول:** عموماً په هر ځای کې د حکومتونو دوام د هېواد پر مجموعي وضعيت متکي وي، چې افغانستان هم ترې مستثنا نه دی. که چېرې د امنيتي وضعيت ترڅنګ اقتصادي وضعيت هم د اوس او تېر کال په پرتله ښه شي، نو ښايي چې دغه حکومت تر پنځو کلونو پورې دوام ومومي.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.